د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ وَمَن كَفَرَ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه 3 ذیالقعده، ۱۴۴۵هـ
11/۰5/2024م
ګڼه: ح.ت.افغ 23/۱۴۴۵

## مطبوعاتي اعلاميه

## په ببلابېلو ولايتونو کې د وروستيو سيلابونو اړوند د حزب التحرير – ولايه افغانستان د تسليت او غمشريکۍ پيغام

د افغانستان په شمالي او مرکزي ولايتونو کې د فصلي بارانونو او سيلابونو له امله تر درې سوو زيات کسان وژل شوي او لسګونه نور لادرکه دي. د دې ترڅنګ ډېر شمېر کورونه او کرنيزې ځمکې ويجاړې شوې دي. د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دغو سيلابونو له امله زيانمنو شوو کسانو سره خپله ژوره غمشريکي او همدردي ښيي او د الله سبحانه و تعالى له دربار څخه غواړي چې وفات شوي د شهيدانو له ډلې حساب کړي؛ ټپيانو ته بېړنۍ او بشپړه روغتيا او زيانمنو ته جميل صبر ورکړي.

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

**«الشّهداء خمسة المطعون و المبطون و الغرق و صاحب الهدم و الشهيد فی سبيل الله عزّ و جلّ» (متفق عليه)**

***ژباړه:*** *پنځه کسان شهيدان دي؛ څوک چې له طاعون يا وبا ناروغۍ مړه شي، څوک چې د ګېډې له درده مړه شي، څوک چې په اوبو کې ډوب شي، پر چا چې کوم ځای راړنګ شي او مړ شي او د الله عزّ و جلّ په لار کې شهيد.*

په دې کې هيڅ شک نشته چې ژوند د ابتلاء او مصيبتونو ځای دی او هر مصيبت چې د الله سبحانه و تعالى له لوري پر يوه قوم راځي، حکمت لري او د هغه پر وړاندې د مومن غبرګون بايد صبر، توکل او پر الله سبحانه و تعالى باور وي او بايد له دغې حادثې لازم عبرت واخلي.

د دې ترڅنګ، د تدابيرو نيول او د مسلمانانو د چارو سم سمبالول د هغوی پر حاکم، چې مسوليت يې لري، واجب دي. دا د حاکم مسوليت دی چې هم د پېښې تر پېښېدو وړاندې د خلکو د ځان او مال د ژغورنې لپاره پلان ولري او هم تر پېښې وروسته قربانيانو ته د رسيدګۍ لپاره اړينه او هر اړخيزه هڅه وکړي. له شک پرته چې د دغه ډول پېښو يو عامل د پانګوال نظام پلي کول او د ځمکې پر سر د الله سبحانه و تعالى د دين د حاکميت نشتون دی؛ چې په پايله کې يې د ژوند چاپېريال فاسد شوی او د نړۍ په کچه د اقليمي بدلونونو او د ځمکې د تودوخې شاهدان يو. د ملګرو ملتونو د راپور پر بنسټ، افغانستان په نړۍ کې د ګلخانه‌اي ګازونو په توليد کې ۰،۰۸ سلنه برخه لري خو د اقليمي بدلونونو په سبب ډېرو زيانمنېدونکو هيوادونو کې بيا ==شلورم== ځای لري او په افغانستان کې د اوبو او چاپيريال ساتنې وضعيت يوه پېچلې بڼه غوره کړې. له بده مرغه د حکامو د نه پاملرنې او د اساسي بېخ‌بنسټونو د نشتون په سبب هر کال دا ډول پېښې کېږي او باران چې د الله سبحانه و تعالى رحمت دی، د خلکو د له منځه وړلو وسيله شوې چې ځان، مال، کور او کرنيزې ځمکې يې له منځه وړي.

**«الإِمَامُ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ.» متفق عليه.**

**ژباړه: امام (حاکم) شپون (د چارو سمبالوونکی) دی او هغه د خپل رعيت پر وړاندې مسول دی.**

اوس چې د افغانستان پر خلکو دا مصيبتونه راغلي، هيله لرو چې ټول مسلمانان په ټولو کچو کې يو بل ته لاس ورکړي او د دغې پېښې د قربانيانو او زيانمنو مرستې ته راودانګي.

﴿الَّذين إذا أصابتهم مصيبة قالوا إنّا لله و إنّا إليه راجعون(١٥٦) أولئک عليهم صلوات من ربّهم و رحمة و أولئک هم المهتدون﴾ [بقره: ١٥٦-١٥٧]

**ژباړه:** «(صابران) هغه کسان دي، چې کله مصيبت ورته ورسېږي نو دوی وايي: موږ د الله يو او د هغه لوري ته ورستنېدونکي يو. پر دوی د خپل پالونکي له لوري درود او رحمتونه دي او همدوی پر سمه لار روان دي.»

## د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر